# کمیسیون مستقل انتخابات

## د ټا کنو د خپلواک کمیسیون پریکړه

: ۱۲ـ ۱۳۸۹

موضوع: د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په غونډو کې د کتونکو بنسټونو د استازو د ګډون کړندود او د کلید رسنیز ګروپ او طلوع تلویزیون ته د باورلیکونو په اړه بحث.

مرجع: د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د دارالانشاء ریاست

: د ۱۳۸۹ هـ ل کال د غويي ۱۹، چې د ۲۰۱۰ .

: ښاغلی فضل احمد معنوي ، ښاغلی ستر جنرال محمد ایوب اصیل ، آغلې مومنه یاري ، آغلې مستوره ستانیکزی، ، ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني، ښاغلی قاضي سلیمان حامد او ښاغلی عبدالخالق حسیني پشه ئي .

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د اساسي قانون د ۱۵۶ مادې او د ټاکنو د قانون د (۶۶) مادې د سپارل شوو واکونو پربنسټ،

**د ټاکنو خپلواک کمیسیون پریکړه وکړه چې:**

1. د کمیسیون په غونډو کې د کورنیو او نړیوالو کتونکو بنسټونو د ګډون کړندود چې له دغې پریکړه لیک سره مل دی تایید او تصویب دی.
2. د وړاندې کړل شوو اسنادو له مخې د کلیدګروپ او طلوع تلویزیون رسنیو ته باید باورلیک ورکړل شي.